# مطبوعاتی خبرتیا

دکندهار ولایت دسپین بولدک په ولسوالی کی دملکی خلکو وژل دبشریت په وړاندی جنایت او دنړیوالوبشردوستانه قوانینو څخه سر غړونه ده .

کابل: د۱۳۸۹ لمریز کال دمرغومی ۱۸(د۲۰۱۱م کال دجنوری اتمه )

پرون دجمعی ورځ چی د۱۳۸۹ ل کال دمرغومی ۱۷ نیټه وه دکندهار ولایت دسپین بولدک ولسوالی په حمام کی ځانوژونکی برید تر سره شو چی په هغه کی ځینی ملکی کسان مړه او ځینی بیا ټپیان شول.

دافغانستان دبشر دحقوقو خپلواک کمیسیون ددی خبرتیا په خپرولو سره دقربانیانو دکورنیو سره خپله خواخوږی شریکوی اودټپی کسانو دپاره ژر ترژره روغتیا غواړی .

دکندهار ولایت دسپین بولدک ولسوالی دحمام په دغه ځان وژونکي برید کی چی درسنیو له خوا کمیسیون ته خبر ورکړل شوی دی ۱۶ ملکی کسان مړه او ۳۳ کسه ټپیان شوی دی ، برسیره پر دی چی دغه برید داسلام دمقدس دین دموازینو پرخلاف یوه شیوه وه هغه دنړیوالو قوانینو تر پښو لاندی کول وه ځکه ددغه برید ډیرقربانیان ملکی کسان وه.

دافغانستان دبشر دحقوق خپلواک کمیسیون په ښارونو او ولسوالیو کی دملکی کسانو دټولیدو په سیمو کی هر ډول بریدونه په کلکه باندی غندی او هغه دهیڅ ډول توجیی وړ نه ګنی.ددولت د وسله والو مخالفو ډلو څخه هیله کیږی چی دملکی خلکو دټولیدو په سیمو کی دبریدکولو څخه ډډه وکړی.

څرنګه چی دغه ځان مرګی بریدچی د۱۳۸۹ ل کال د مرغومی پر ۱۷ (د۲۰۱۱ م کال دجنوری اومه )باندی سرته ورسیدی او دسپین بولدک دولسوالی حمام ملکی کسان په نښه شوی وه ،دا دملی او نړیوالو قوانینو او دژینو دبشرپالنی قوانینو پر ضد یو برید وو.دافغانستان دبشردحقوق خپلواک کمیسیون په دی برخه کی ډیر اندیښمن دی او دافغانستان دجمهوری دولت او دملګرو ملتونو دسازمان څخه هیله لری چی ژر تر ژره دی ددغه لوی جنایت (دبشر پر ضدجنایت)تر سره کوونکی محکمی ته را کش کړی او په دی برخه کی د هیڅ ډول مرستی څخه ډډه ونکړی .

دافغانستان دبشر دحقوقو خپلواک کمیسیون